مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمدعلم علم ۲۰۱۸/۰۵/۳۱

# دوه جمع دوه مساوي څلور!

د مذهبي عالمانو نړيوالي غونډې او پرېکړې د طالبانو د جګړې ايډيالوژيک اړخ ته سخت زيان اړولی شي.
طالبانو د اندونيزيا په غونډه کې له دې کبله ګډون ونه کړ چې هلته په دې ملامتېږي چې د بهرنيو ځواکونو د حضور په پلمه ولې کورنې ځواکونه او افغانان وژني او کورنۍ جګړه کوي او مخکې له مخکې د بهرنيو ځواکونو وتل ولې سولې ته شرط ږدي او د سولې مخه پرې نيسي.
که څه هم په نومړې غونډه کې پاکستانيو ملايانو وويل چې دوی د طالبانو استازي هم کوي او دغه غونډه بايد فتوا ور نه کړي چې په افغانستان کې جګړه حرامه او ناروا ده. که څه هم د دوی دغه کار سبب شو چې د غونډې د فتوا مخه ونيسي؛ خو بيا هم غونډې د افغانانو وژل د اسلامي اصولو او احکامو خلاف او ناروا کار وباله.
اوس دا دی يوه ورته غونډه په سعودي عربستان کې جوړيږي. د دې غونډې يوه ورځ به يې په جده کې او بله ورځ به يې مکه معظمه کې وي او د نورو موضوعاتو ترڅنګ د بحث ډېری برخه به يې په افغانستان کې پر جګړې متمرکزه وي.
په پام کې ده چې دې غونډې ته د طالبانو استازی هم راوبلل شي، خو ګومان نه کېږي چې طالبان دې په دې غونډه کې هم ګډون وکړي.
که څه هم اسلامي اصول او د پيغمبر ص کړنې دا په ګوته کوي، که د جګړې متقابل اړخ د سولې غوښتنه وکړي، نو بايد ورسره سوله وشي. د حديبي سوله يې ښه بېلګه ده، چې پيغمبر ص هغه د مکې مشرکينو ته په ډېر امتياز ورکولو سره وکړه. که څه هم ډېری مسلمانان د پيغمبر ص له دې هوکړې ناراضه شول او پخپل تاوان يې ګڼله، خو په حقيقت کې همدغه هوکړه وه چې مسلمانانو ته يې د مکې د فتحې لار پرانسته او دغه فتح په واقعيت کې د اسلام د پراخېدو کلي وه، چې مسلمانانو ته يې په لاس ورکړه او مسلمانان يې تر اندلس او ايتاليې ورسول.
دغه ټولو څرګندونو ته په کتو، طالبان هيڅ حق، عذر او بهانه نه لري چې د سولې له پروسې او له سولې ځان په ډډه کړي. لکه پخواني جهادي تنظيمونه په دې برخه کې طالبان هم يوازې د بهرنيو ځواکونو حضور پلمه کوي، خو دغه حضور د شوروي ځواکونو له حضور سره توپير لري، ځکه دلته د افغان دولت، امريکې او ناټو ترمنځ او همداراز له يوشمېر نورو هيوادونو سره د ستراتيژيکي تړونونو په نوم رسمي هوکړې شته چې هر څه په کې هلته په صراحت سره ويل شوي دي. دغه تړونونه په متقابلې همکارۍ ولاړ دي او د تړون هر اړخ يې د فسخ کولو او يا هم تمديدولو حق لري.
دغو تړونونو ته په کتو، د طالبانو دا ادعا چې ګوندې په هيواد کې د بهرنيو ځواکونو له حضور سره مخالف دي او تر هغه چې دوی حضور ولري له چا سره سوله نه کوي، کاملا تبليغاتي متناقضه او بې مورده ده. لومړی دا چې د هوکړو له مخې د بهرنيو ځواکونو شتون او يا هم وتل يې په کومو شرايطو پورې نه دي ترل شوي او د متقابلو حکومتو په خوښې او اړتياوو پورې اړه لري. طالبان په دې خبره له بل هر چا ښه پوهيږي، خو له دې وضعيته لکه پخواني تنظيمونه افزاري ګټه پورته کوي او په لوی لاس متقابل لوری ورته شرايطو ايښودو ته ننګوي او په دې سره خپل عمر ته د ادامې ورکولو حيله او پلمه په لاس راوړي.
که تاسو وګورئ! له امريکې سره د ستراتيژيکي تړون پرېکړه يوازې د افغان حکومت کار نه و، بلکې دغه پرېکړه څو ځله جرګو او مشورو ته وړاندې شوه او وروسته لاسليک شوه، اوس طالبان نه شي کولای په دې پرېکړه يوازې افغان حکومت ملامته او په نښه کړي، په داسې حال کې چې طالبانو د خپلې جګړې او مخالفت اصلي موخه افغان حکومت ګرځولی او هغه يې په نښه کړی دی.
خلک ويني چې طالبان په مياشتو مياشتو کې د يوه بهرني عسکر حتا پزه نه شي ويني کولای، خو هره ورځ په لسګونو افغان سرتېري په نښه کوي او همداراز تراوسه طالبانو چې په نښه کړي هيڅ يوه بهرنی ولسوالی يې نه ده په نښه کړې او هره ورځ د کور دننه په يوه نه يوه ولسوالی جګړه کوي او د دوی دغه کار سبب کېږي چې په لسګونو او سلګونو بې ګناه افغانان ووژل شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ

له بل پلوه، طالبان افغان سرتېري په داسي حال کي واجب القتل بولي او جګړه ورسره کوي، چي په کراتو کراتو افغان حکومت کورنيو اورپکو او مخالفانو ته بې قيد او شرطه د سولي وړانديز کړی او دوی ويلي او په اساسي قانون کې راغلي د افغان امنيتي ځواکونو اصلي دنده له هېواد څخه دفاع، د قانون تنفيذ او د عامه نظم او امن ټينګول دي او له هېڅ افغان سره د جګړې اراده نه لري.
شايد ځينو ته پوښتنه پيدا شي چي بيا ولي د دوی له خوا طالبان تعقيبيږي او جګړه ورسره رامنځته کيږي، ځواب دا دی چي طالبان قانون ماتوونکي، د نظم او امن عامه ګواښونکي او د ولس د پرېکړو نه منونکي دي. دوی اساسي قانون چي د افغان ولس د رايو مظهر او د لويې جرګې پرېکړه ده نه مني، دولت او حکومت چي د خلکو په رايو راځي هغه هم نه مني او ورسره په دښمنی لګيا دي او په لوی لاس يې د دوی او نورو ملي ارزښتونو تباه کولو ته ملا تړلې ده.
له بل پلوه، هېڅ داسي لاسوند نشته چي طالبان دي خپل ولسي مشروعيت پرې ثابت کړای شي، دوی نه د ريفراندوم او نه د کومو ټاکنو له لارې راغلي، بلکي لومړی مخ پټي يوې سميې ته د ټوپک په زور راځي او له يوشمېر ځنځيري او ناروا وژنو وروسته خلک وېروي او د زور له لارې خپل حاکميت پرې تپي چي په ښکاره کراهت او شنيع عمل دی.
لنډه دا چي د طالبانو پرمخ ټولي لارې وازې دي، دوی کولای شي حکومت ته راشي، له امريکي سره ستراتيژيک تړون فسخ يا تمديد کړي، بهرني ځواکونه وساتي، يا يې وباسي، نو جګړې ته هېڅ اړتيا نه لري او د سولي لپاره د بهرنيو ځواکونو وتل او نور شرايط وضع کول مازې يوه بهانه او متقابل لوری ورته شرايطو وضع کولو ته ننګول، د حالاتو بن بحث ته راکاږل او پېچلي کول او په نهايت کي د جګړې ادامي ته د پلمي د لټولو په معنا دي.
که طالبان فکر کوي چي ګوندي پخپلو دې کارونو سره افغان حکومت او يا خلک غولولی شي، بايد وپوهېږی افغان ولس او افغان حکومت يوځل د ډاکتر نجيب الله د واکمنی پرمهال په دې پلمو غولېدلای بيا نه غولېږي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ